مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر ۲۰۱۹/۰۹/۲۱

# د لویی، کبر او غرور، خود خواهی تکبر او ځان لیدني په هکله

## د انسان بی حده عاجزی

(هر گز از متکبر بوی معرفت نیاید)

(بایزید بسطامي)

ته چې هر چاته په خـــــوارو سترګو ګوري
لا ړومبی، به سا صورت په خاورو خوار شي

هغـــــــه زړه به له تــــــوفانه ،په امان وي
چي کشـــــتۍ غوندي ، دخلکو بار بردار شي

««««««««««««««««««««««««««««««««

د ځينو خلکو مرګ داسي هیر وي چي د هیڅ عبرتناکه واقعی یا صحنې څخه عبرت نه اخلی ،او نه بیداره کیږي، خو تر څنګه یی داسي انسانان شته ،چي هره لمحه هره شیبه یی په خپل حال باندی پام وي خو څوک داسی هم وي چي د ګور کن د کلندونو په آواز راویښ شي ،لکه زما د دي شعرپه حواله چي د غربی عالم یوه لنډه وینا می په دي دوه بیتوکي راوستی:

څوک هر لمحي کي د دنیا له مکارۍ وي خبردار
څوک په آواز د کلندونو، د ګور کن کي شي بیدار

خو نن مونږ داسي غافلان ګورو چي د دغی پورتنیو ټکو د درک احساس ورسره نشته ، خو د دي با وجود د حیرانتیا خبره دا ده ،چی د داسي مطالبومضامینو په مفهوم او معنی هم نه رسی .او د زماني په سلګونو اشاراتو باندی نه بیداره کیږی .یعني غافل دنیا ته راځي او غافل مری .دومره د دي دنیا په ظاهری بنه غولیدلي او تیروتلی دي چي په تش قدرت او مقام ځان ورک کړي .او داسي لویي کوی چي خپل عاجزی هیره کړي .نور خپل ځان نهویني او په یو ساده بحث کي یی ډیر عادی او ساده خلک د دوی د کبر او لویی درک کولای شي ، د پوهي او معرفت خاوندان خو لا پریږده ، د ښمن له خوا به تري کاذبه شخصیتونه جوړ شوی وي ، او سرمایه به یی د چور غلا د لارې پیدا کړي وي ، خو په بحث کي که ورسره ګډ شوی ،نو د خبرو څخه به یی داسي ښکاري ،چي مرګ د ده په خپل لاس کي دی ، او مرګ یی سره هیر وي . چي زما دا شعر د دوی د حال سره سمون خوري چي د حضرت بیدل د دي شعر ژباړه هم ده :

یک قـدم راه است بـیـدل ، از تو تا دامان خاک
بر سر مژګان چو اشک استاده ای هوشیار باش

*****



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

آترخــو به په غرور کې یی لویدلی
په نشـــو کې دقـــدرت یي لوبیدلی

خبر اوسه چي تر گوره مزل لنډدی
لکـــه اوبـــکه، په بنـو یی دریدلی

خواجه عبدالله انصاری چي ډیر لوی عالم شاعر او متصوف دی او په فارسی ادب او په تیره د فارسی ادب په دنیا کي لوی مقام لري نو د ده په یوه څلوریځه کې د عاجزی د درک په هکله د اهل ذوق او عبرت د خاوندانو د پاره ښه پیغام په کې نغښتی دی دا شعر می ډیر خوښ دی .او د ډیر ورکوټوالي څخه می په ذهن کې ثبت دی .او دا شعر دی :

عیب است بزرگ برکشیدن خود را
وزجمـــله خلق برگزیدن خود را

از مردمـــــک دیده بباید آموخت
دیدن همه کس را و ندیدن خود را

*****

درنه چوپتیا ده ، په نظر کې د غافل په ادیری کې
د عبرت رســـا غوږونه ،ترې نه اوري حکمتونه
(نادر)

تر دي لوی عبرت نشته چي ادیری ته وګورو ،او په خپل حال نظر واچوو ،چي په دي درنه چوپه چوپتیا کي د عبرت غوږونو ته دا آواز راځي ،چي ګوندي مړي د حال په ژبه دا وایي :

چي تیریږی می له قبره په غرور او په خرام
دلته وګوره آیینـــــي کې د عبرت خپل انجام
(نادر)

په ریښتیا چي د عبرت په آیینې کې کتل د معرفت څراغ په زړه کې روښانول دي .د نازک بینواو عبرت بینو سترګو له نظره که دي دنیاته ځیر شو. د څښتن تعالی د قدرت په وړاندي ، د خپلي عاجزی درک کول او دزماني د اشاراتو څخه درس اخیستل دا د صاحبدل او روښانضمیره انسانانو خاصه ده ، مړی ښخول او په تیاره ګور کې یي یواځي پریښودل دا هم د عبرت اندازه او عبرت بینو سترګود عبرت او انتباه د اخیستو د پاره بیدارونکی درس دی.خو د دي د پاره د لیږون سترګي او د عبرت اوریدونکی او شنوا غوږونه په کار دي .د عبرت خاوندان په خپل عبرت اندازه نظر کې د ګل د هر پاڼی د تویېدو څخه دا څو کرخي د عبرت راټولوی .

هره پاڼه چي دګل څـــــــــخه تویږي
صاحبدل په خپل انجام باندی پوهیږي
(نادر)

ځکه په هره پاڼه هر ښاخ کې ،لنډه یي دا چي په خس وخار کې د عبرت ټکي پراته دي .

هر ورقی د ګلشن کې ستا حـکمت دی
د بلبلو په ثنـا کې ستـــــا صـفت دی

په نــظر د عبرت بـین په دي چمن کې
هـره پاڼـــه یي، دیـوان د معرفت دی
(نادر)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکي په ځیر و لولئ

خو دلته د رڼو سترګو خاوند په کار دی ، چي  په اړخونو او ماحول په خلاصو سترګود معرفت له دریڅې څخه نظر واچوی .

د رڼو ســــترګو خاوند دلته په کار دی
چي اسرار د دي چمن ورته ښکاره شي
(نادر)

او یا دا چی :

د عبرت نښي به ډیری ورښکاره شي
چا چي سترګي دي پـرانیستی د لـټون

د عاجزۍ د درک د پاره ښه لاره ، دا ده چي انسان لمړی خپل ځان د معرفت په جامه او زیور سمبال کړي ،او له دي لیارې خدای تعالی ته هم نژدي کیدای شي .لکه د فارسي  د دي شعر په مصداق سره :

چو شمع از پی علم باید گداخت
که بی علـم نتان خدا را شناخت

ځکه دا یواځینی لاره ده چي انسان د خپل عاجزۍ درک کولای شي . د معرفت خاوندان هره لمحه ،هره لحظه ، او هره شیبه خپل حال ګوري . لکه هره شیبه چي یی مرګ نژدي وي ،او د اجل په انتظار وي ،او دا حالت هم انسان ته بصیرت بخښي ،او بصیرت یی ورزیاتوی ،او دا موضوع دردمند شاعر رحمن بابا چي په فاني د نیا باندی ترټولو فلسفیانو زیات فکر کوی ،او په خپل هر شعر کي د فاني دنیا د مکاری او بی وفایی څخه سر ټکوی .نو په خپل دي شعر کي د فاني دنیا د سست بنیادی په هکله د معرفت د خاوندانو د پاره ستر پیغام لري . داسي وایي :

زه له دي دنیا نه ،تلونـــی په شـــــتاب یم
لکه پاڼه د خـــــزان پښه په رکــــــاب یم

که هزار آبادی کـــــــړمه په جـــهان کي
غرض دا چي نهـــایت خـــــانه خراب یم

که می اصـــــل د حیاتو، لـه اوبــــو دی
بیا خو دا چـــی د اوبو په ســـر حـــباب یم

دا جهان قصـــاب خانه کړه خــــدای وماته
یا بســـته ولاړ، په غــــولي د قـصاب یم

چي د خدای د مـعرفته خـــــــــبر نه یم
معلومیږي چــــي یا دیـــو یم، یا دواب یم

که صورت می د سړي دی زه یی څه کړم
په معنی کي د چهــــار پایو، پـه حساب یم

لکه بت چي، په رڼو ســــترګو ویده وي
هسي زه په بــــیداری کي ،وړی خواب یم

دا د رحمان با با ژړا ده په خپل حال باندی ،چي ظاهراً خپل ځان ته خطاب کوي ، خو داسي د معرفت په صاحبدلانه وینا کي راپیچي چي هر دمعرفت خاوند د عبرت په دي هنداره کي ځان ویني .او هم د عبرت د خاوندانو د پاره ډیر یو ټکان ورکونکی نقش لوبوی .رحمان با با د دنیا د بی وفایی نه لاس په سر او هومره ژړه غونی دی ،چي خپل یو بیت کي داسي وایي :

په خنـدا کي مي ژړا ده ، لکه شمع
له عالمه پټ پنهو ، د ځان په ویر یم



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

او بل ځای د غافلانو د پاره چي فکر کوي ،چي تل تر تله به ژوندي وي ، داسي وايي :

چي په نور څـــــه پوري زړه تړي بی خدايه
څـه پـوهيږي چي په ځای کړيږي، که بی ځايه

داخـــونشـــــته چـــي به تل تر تلـــــه پايي
که بيا پايي، خـــو تر ســـلو كـــــالو پايه

که دي ســـل کاله شــــي عمر خو به تير شي
دغـه پســـــه به بيا څــــه كړې، راته وايه

سم دلاســــــه چـــاری نشي، مرد هغه دی
چـــي بيدار وي، وغلــــيم وتــه لـه ورايه

ته په اصـــــل کي سړی يی، څـاروی نه يی
د چـارپايـو، چـــاری مـــــه كوه ، دو پــايه

وړاندی ســــرای لــــړه توښـه تړه ، رحمانه
څو سفر دی کــــړی نه وي ، له دي ســــرايه

بل ځای هغه انسانانو ته چي ، غفلت ،لويي او تکبر يي د عبرت سترګي ړندي کړي ،او ځينو ته په خوار نظر ګوري داسي انسانانو ته وايي :

ته چي هر چا ته په خوارو ســــترګو ګـــوري
لا ړومبی، به ستا صورت په خاورو خوار شي

هغه زړه به له تـــوفانه ،په امـــــــــــان وي
چي کشـــــــتی غوندي، د خلکو بار بردار شي

*****

او يا دا شعرد رحمان با باچي وايي :

چي مدام يی ، د سنجاب د پاسه خوب کړ
اوس پر ځمـــکه بی بستره، بی بـالين شو

د رحمان خاطر به ولي ، پريشان نه وي
چي پريشان ورځخه ، جمع هم نشين شو

معرفت خاوندانو ته دا پاتي چي په خس و خار باندي وژاړي ، يعني د هر څه درک وکړي،يعني خپلي د بصيرت سترګي پرانيزی، او خس او خار هم بی حکمته و نه ګڼي ،لکه څرنګه چي حضرت ابوالمعاني بيدل په دي شعر کي داسي وايي :

تا چـــــند به هر مرده و بيمار بګريم
وقتست ، به خود ګريم و بسيار بګريم

زين باغ ګذشــــتند، حريفان بـه تغافل
تا من به تمـاشـــای ګلو خار، بګريم


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولـئ

بربیکسیم ، رحم نه کردند رفیـــقان
فریاد به پیـــش کی ، مني زار بگریم

اگر که د رموزاتو لیدل او اوریدل هم هم هماغسي د عبرت شنوا او محرم غوږونه غواړي ، هر څوک دا پیغام نه شي اوریدلای ،لکه څرنګه چي حافظ علی الرحمه وایي :

تا نګردي آشنا ، زین پرده رمزی نشنوی
ګوش نا محرم نباشد ، جای پیغام سروش

او دا د علم خاوندان دي چي دي دنیا ته په فلسفي نظر ګوري او د علم او حکمت په پوهیدو سره د رموزاتو د پوهیدوخواته لاره پیدا کولی شو
،نو مونږ ته په کار ده چي د ژور سوچ ښخه کار واخلو ،او خپل مسوولیتونو ته ځیر شو .او په فاني دنیا کي په داسي یو حالت کي اوسو .چي ګواکي هر لحظه هر لمحه ،د رفتن آواز په مونږ کیږي ، لکه دا دوه شعره :

بی خــــــبره یو شیـبـي کي ، له فاني دنیا یم تلونی
په خپل حال باندي مي پام دی ، ځکه یمه ژړه غونی
(نادر)

*****

په وجود کي روح او تن راته ژړیږي
اشارت چي د رفتـن راباندی ، کیږي
(نادر)

خبـردار له خپله حــاله وي، مدام
چي د زړه په سترګو چا ولید انجام
(نادر)
ډیر د بصیرت خاوندان دي ، چي په رڼو سترګو او شنوا غوږونو عالم فاني ته ځیر دي ، لکه زما دي شعر کي:

له لویی او له غروره بصــیرت کړمـــــه جــــلا
له صحرا نه ، دامـکان یي کړم ، عــــالم ته د معنی

کرامت او بزرګي ، راته هلـــــــــته شوه حاصله
چي خیشتی می ، دخپو خاوري کړي ، د عجز په ژړا

د عبرت خاوندانو د فاني دنیا ښخه همدا درس اخیستی ،ځکه د حال خاوندانو او ټولو د معرفت خاوندانو چي لږ علم هم ورسره وو ،د خپل عاجزی درک یی کړی .ځکه کله په عاجزی درک او په خپل عجزی پو هیدل هم د عبادت نه کمه نه ده و لکه زما د دي شعر په مصداق :

کله کله په خـــپل عجز باندی نظر
په حالت د هر انســـان کوی اثر

بزرګانو لدي ،لیاري نه و هر کله
په حـــــریم د ولایت کـړی، ګذر

بده به نه وي چي دا د فارسی څو بیته ، د پروین اعتصامی د مزار د ډبری ښخه رانقل کړم ،چي ډیرو پوهو خلکو او د معرفت او حکمت خاوندانو دا شعر خوش کړی. او بیدارونکی پیغام په کي پروت دی :


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مونږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

بیند این بســـــتر و عـبرت گیرد
هرکه را چشم ، حقیقت بـین است

هر که باشی و ،از هر جا بـرسی
آخرین منزل هســـتي این اســـت

آدمی هرچـــــــــه توانــگر باشد
چو بدین نکته رسد ، مسکین است

اندر آنجــــا که قضا حمــلـه کند
چاره تسـلیم و ادب ، تمکین است

زادن و کشـــــتن و ، پنهان کـردن
دهر را رسـم و ره ، دیـرین است

خرم آنکـــس ،که درین محنت گاه
خاطری را ، سبب تســـکین است




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ